


درنو او پتمنو دوستانو او مینوالو ته خوږ او په زړه پوری زیری :

د لمر د مجلې په تړاو یو څو لنډې خبرې :

زموږ په تاریخي، لرغوني او ادب پالونکي هیواد کې د پیړیو پیړیو راهیسې نومیالیو، ملي، سیاسي او ټولنیزو ستېو، علمي او مخکښو لیکوالو، ادبي او فرهنګي شخصیتونو او شاعرانو د نوښتګرو اندونو، پوهې، علم ،ادب، قلم، او توري په وسیله د هیواد د عیني او ریښتیني حوادثو او پېښو په تړاو او د هیواد د خپلواکۍ، آزادۍ او دموکراسۍ په ګټلو کې د عمل په ډګر کې روښانه، ځلانده او فعاله ونډه تر سره کړې ده. د دغو نامتو، مېړنیو اتلانو او زمریانو ملي غرور، جګه شمله، ځلانده کارنامې، سرښندنې، مېړانه او اتلولي د یادګار او حماسو نه ډک تاریخ لري.

زموږ په جګړه ځپلي ، کړیدلي او ځوریدلي هیواد کې د پتمنو، درنو او مېړنیو نارینه وو ترڅنګ ازادي غوښتونکو، پېژندل شویو او اتلو مېرمنو د تاریخ په اوږدو کې د خپلو انساني احساساتو، عواطفو، په وسیله د رنځیدلو او ځوریدلو هیوادوالو فریاد، اوښکې، ویرونه، سلګې او زګیروي د انساني ژوند په بېلابېلو برخو کې انځور کړیدي او د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره خپل مقاومت، عادلانه او برحقه مبارزو ته دوام ورکړې دی، او په دې لاره کې یې اوچت ګامونه پورته کړې دي، چې د دغو اتلو او نامتو ښځینه وو نومونه د میړنیو اتلانو ترڅنګ ځلانده او تلپاتې دي.

اغلۍ درخانۍ ذهین له هغو پیږندل شویو، نوښتګرو او هڅاندو میرمنو څخه ده ، چې د خپل اوچت قلم، پوهې، لوړتیا او استعداد، وطني او ملي احساس له لارې یې په خپلو لیکنو کې د سیاسي او ټولنیز ژوند علم، ادب او فرهنګ په برخه کې نه هیریدونکې او نه ورکیېدونکې هلې ځلې تر سره کړېدي. د دې فعاله ونډه د ټولنیز ژوند په بېلابېلو برخو کې د خورا ستاینې او درنښت وړ دي.

اغلۍ درخانۍ ذهین با احساسه او تکړه لیکواله، خوږ ژبې دیکلماتوره او د ملګر د مجلې مدیر مسووله او د امتیاز خاونده ده. دا مجله د امریکا په هېواد کې د نیویارک په ښار کې چاپیږي.

اغلۍ درخانۍ ذهین په خپل ځانګړي لګښت د ملګر مجلې لمړۍ دویمه او دریمه ګڼه په ډېره مهربانۍ سره ما ته د تکزاس له ښاره هالند ته را ولېږلې چې د زړه له کومې ورڅخه مننه کوم.

د یادونې وړ ګڼم چې اغلۍ درخانۍ ذهین دا مجلې نه یوازې ماته په خپل ځانګړي لګښت را استولې دي خو ټولو هغو درنو لیکوالو ته چې په بېلابېلو هېوادونو کې میشت دي او د دغې مجلې په وسیله د دوی لیکنې خپرېږي هم استولې دي.

ما دا مجلې چې په ډېر عالي او ښکلي ډیزاین، صحافت او رنګینو انځورونو چاپ شوې دي په ډېره مینه او پاملرنې سره ولوستی.

په دغو مجلو کې د یو شمېر نامتو، مخکښو، نوښتګرو او پېژندل شویو لیکوالو اغېزمنې، ارزښتمنې او ګټورې څېړنې او لیکنې د ژوند په بېلابېلو برخو کې انځور شوې دي چې د خورا ستاینې او درنښت وړ دي او په ځو وارو لوستلو ارزي.

زه اغلې درخانۍ ذهین ته د دې ګټورو او با ارزښتو مجلو د چاپولو له کبله مبارکي وړاندې کوم او د دې دلانورو زیاتو بریاوو، غوړېدو او هستونو په هیله یم.

په مینه او مننه : انجنیرعبدالقادرمسعود